# په دنيا کې زهد (بې رغبتي) وکړه چې الله درسره مينه ولري، او د خلکو په شتمنيو کې زهد وکړه چې خلک درسره مينه ولري

د ابو العباس سهل بن سعد الساعدي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: ای د الله رسوله! ما ته داسې عمل وښايه چې په کولو سره يې د الله تعالى او د خلکو خوښ شم، هغه وفرمايل: «په دنيا کې زهد (بې رغبتي) وکړه چې الله درسره مينه ولري، او د خلکو په شتمنيو کې زهد وکړه چې خلک درسره مينه ولري».

[النووي وايي: حسن حديث دی] [ابن ماجه او نورو په حسنه اسانيدو روايت کړی دی]

يو سړي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل چې ما ته داسې يو عمل وښيه چې که ما وکړ، الله به مې خوښ کړي او خلک به هم راسره مينه ولري، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: الله به درسره هغه مهال محبت وکړي چې د دنيا له فاضله او هغو شيانو لاس واخلې چې د آخرت لپاره ګټه نه لري، او هغه څه پريږدې چې کېدی شي په دين کې ورسره تاوان رامنځته شي، او خلک به درسره هغه مهال مينه ولري چې ته له هغو شيانو بې پروا شې چې دوی سره دي، ځکه دوی په طبيعي ډول له دنيا سره مينه لري، او هغه څوک يې نه خوښيږي چې دوی ته پکې مزاحم کېږي، او هغه څوک يې خوښيږي چې مزاحمت ورته پکې نه جوړوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4307